**زموږ پایلې:**

د ارشاد، حج او اوقافو وزارت د حج د غوښتونکو د معلوماتو د ښه مدیریت په موخه د حج مالي سېسټم تر عنوان لاندې د معلوماتي ټکنالوجۍ سېستم جوړ کړی، چې دوه برخې لري، یوه یې د حج د نوماندانو نوم لیکنه ده او بله برخه یې د د حج د بهیر د لګښتونو په اړه ده، یاد سېسټم، چې ۴۸۵،۰۰۰ افغانۍ په لګښت د ارتباط تکنالوژی شرکت په همکاری جوړ شوی، خو له ۱۳۹۹ کال راهیسې نه دی کارول شوی او د یاد سېسټم ځای ناستی هم په پام کې نه دی نیول شوی.

کله چې د معلوماتو سېسټمونه رامینځته کیږي، د سېسټم نیمګړتیاوې باید په ګوته شي او د وخت په تیریدو سره یې د حل لپاره اړین ګامونه پورته شي. خو د ارشاد، حج او اوقافو وزارت د حج په مالي سېسټم باندی شوو لګښتونو په پام کې نیولو پرته د بدلولو لپاره اقدام کړی، چې دا د مدیریت ضعف ځرګندوي.

د یادولو وړ ده، چې د ګومارل شوي ټیم د (۱۴۱۹۷) ګڼې استعلام له لاري د پخواني ګومارل شوي ټیم د معلوماتي ټکنالوژۍ د عمومي کنټرولونو سپارښتنو د پلي کیدو په اړه پوښتنه کړې، چې پدې پایله ورسیدل، چې د معلوماتي ټکنالوژۍ آمریت د یاد راپور سپارښتنې ندي پلي کړي. او همدارنګه د پورتنیو سپارښتنو د نه پلي کیدو په اړه د قناعت وړ دلیل شتون لري، چې د معلوماتي ټکنالوژۍ د چارواکو د نه ژمنتیا او مدیریتي کمزورتیا ښکارندوي کوي.

د ډیټابیس د نیمګړتیاوو د پیژندلو لپاره، ګومارل شوی ټیم اړونده کیوري (غوښتني) اجرا کړی، خو د حج مالي سېسټم، چې په داسی سرورونو کې موقعیت درلود، چې اغیزمن ژوند یې پای ته رسیدلی، پر همدې بنسټ، د اس کیو ال غوښتنې ترسره نشوې او حتی د حج مالي سېسټم سرورونو له کاره لویدلي دي.

سربیره پردې، محترم وزارت بې جوازه سافټویرونه کارول، د فزیکي لاسرسي پالیسي او د معلوماتو سېسټمونو جوړولو او نصبولو پالیسي نه درلوده او همدارنګه د حج مالي سېسټم د کاروونکو فعالیتونو اتوماتیک ثبت کول، اړین فیلډونه او د ملاتړ سایټ نه درلود.

پورتنیو ټکو ته په پام سره، د ارشاد، حج او اوقاف وزارت اغېزمن کنټرول نه لري.

نو اړینه ده، چې محترم وزارت دې ژر تر ژره د حج مالي سېسټم بیرته فعال او د نوي سېسټم تر رامنځته کیدو پورې دې د وزارت د منل شویو معیارونو سره سم یکی د حاجیانو معلومات ذخیره کړي.همدا راز د ارشاد، حج او اوقافو وزارت د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوژۍ له وزارت سره په همغږۍ، پداسی حال کی، چی د نوي سېسټم کار د شل سلنه څخه زیات مخته تللی وي، د نوي سېسټم په جوړولو او پخواني سېسټم ځایناستي کولو کې ګامونه پورته کړي.خو که د مخابراتو او معلوماتي ټکنالوجۍ محترم وزارت له پورته ټاکلي هدف څخه لږ د حج سېسټم ته وده ورکړي وي، نو غوره ده چې اوسنی سېسټم بډایه شي او د نوي سېسټم تر پلي کیدو پورې باید د حج مالي سېسټم په اعظمی ډول وکارول شي.

د ارشاد، حج او اوقافو وزارت د مالي او اداري محترم ریاست یو استراتیژی تر لاس لاندې ونیسي تر څو د معلوماتي ټکنالوژۍ آمریت له چارو وخت په وخت څارنه ترسره شی، چې د وزارت اوږد مهاله موخې هم تر لاسه شي او نوی سېسټم چې دغه وزارت یې په پام کې لري، د معلوماتي ټکنالوژۍ د آمریت د کم کارۍ له امله بیا له پلي کېدو پاتې نشي.

او همدارنګه محترم وزارت باید اړین فیلډونو، د فزیکي لاسرسی پالیسي، د معلوماتو سیسټمونو جوړولو او نصبولو پالیسي تنظیم کړي او د وزارت د باصلاحیته چارواکو له تصویب وروسته یې پلي کړي.

## زمونږ سپارښتنې:

| | |
|---|---|
| ✓ د ارشـــاد، حج او اوقافو محترم وزارت باید د جواز لرونکو سـافټویرونو په اخیسـتلو کې د دغه وزارت له لومړیتوبونو سره سم عمل وکړي. | ✓ د ارشــاد، حج او اوقاف محترم وزارت باید د معلوماتو د خوندي کولو لپاره د فزیکي لاسرسی پالیسي تنظیم کړي. |
| ✓ د ارشاد، حج او اوقافو وزارت باید د حج په مالي سیستم کې د کاروونکو د فعالیتونو (لاګ) د ثبتولو اتوماتیک ډول جوړ کړي. | ✓ د ارشـاد، حج او اوقاف وزارت د حج مالي سـیسـتم باید د حج غوښتونکو ټول معلومات ثبت کړي. |
| ✓ د معلوماتي ټکنالوجی آمریت باید اړین فیلډونه جوړ کړي ترڅو د غلط معلوماتو د ننوتلو مخه ونیسي. | ✓ د ارشـاد، حج او اوقافو وزارت باید د معلوماتي سیستمونو د لا ښـې پراختیا په موخه د معلوماتي سـیسـتمونو د جوړولو او نصبولو پالیسي ترتیب کړي. |
| ✓ د ارشاد، حج او اوقافو محترم وزارت باید په سیستم کې د داخل شوو معلوماتو د خوندي ساتلو او د معلوماتو د ضایع کیدو د مخنیوي په خاطر باید په دوهم ځای کې د ملاتړ یا دوهم سایټ رامنځته کړي. | |

